# مطبوعاتی اعلامیه

## دتخار په ولایت کی د سرحدی چارو د اداری د(مدیریت) د وړتیا لوړوالي

داپریل دمیاشتی شپږمه نیته

د تخار ولایت افغانستان- د تخارپه ولایت کی نوی سرحد بندر چه د تاجکستان سره په سرحد کی واقع دی، افغان حکومت د پلان مطابق غواړی چه سرحدی او تجارتی چاری په مناسبه توګه ورغوی. چه نوموړی هلی ځلی به تجارتی ، ګمرکی او سرحدی چاري به قانونی توګه بشپړی او غښتلي کړي.

دا پروژه چه مالی لګښت یی د جاپان د حکومت په مرسته او د ملګري ملتونو د پروژو د چارو د خدمتونو د دفتر لخوا به تطبیق شی، چاری ئی د مالی وزارت دګمرکونو د ریاست او د وزارت تجارت سره په بشپړه تفاهم او همغږی پلان شوي دي.

د دی پروژې تول مالی لګښت چه په تخمینی توګه ۱۱ میلونه امریکائی ډالر پلان شوی دی زیربنایی وداني لکه د فتر وداني، د استوګني ځای او ګدامونه په کی شامل دي. د پولیسو اوسرحدی مامورینو روزنه او په پرمخ تللو ګمرکی وسایلو سمبالول په کی هم شامل دي.

د افغان– تاجک د پولي کنترول چه د مخدره توکو او نورو ممنوعه چارو د مخنیوی لپاره د یوې ننګوني په توګه ګڼل کیږي، د چارواکو څخه غواړي چی د مخدره توکو قاچاق او د نورو غیرقانوني فعالیتونو مخنیوي وکړي.

د دی پروژی پیل به وکولای شی د افغان حکومت لپاره کافی ظرفیتونه ورکړی چه چاری به په ښه توګه سمبال چه نتیجه به ئی دقانونی تجارت ارتقاء او د ګمرکی عوایدو زیاتیدل وي.

د تخارمحترم والی عبدالطیف ابراهیمی وویل: "زموږ فعالیتونو د مخدره توکو د مخنیوي په باب په تیرو څو کلونو کی بریالي وي. او نور د کوکنارو کښت او دمخدر توکو فابریکی په تخار کی نشته او له منځه تللی دي. وس یوه مهمه مسله دا ده چه د دی لاسته راغلی مناسب فرصت څخه په ګټه اخیستو سره ، قانونی تجارت لوړ کړو او د خلکو اقتصادی چارو د ښه کیدو ته توجه وشی ترڅو دوامدار معیشت د بی وږلو لپاره رامنځ ته شي. دا نوې سرحدی او بندری خدمتونه به د خلکو او کالو د انتقال لپاره یوه ښه آسانتیا ده او موږ د دی مناسب او پرموقع کار او مرستي څخه مننه کوو."

بروس مکـــــــکارن د UNOPS د عملیاتی مرکز عمومی رئیس وویل: " د موثره اداری ظرفیتونه لوړل په بندر کی د سیمه ایز امنیت سره به په بشپړه توګه مرسته کوي او زه ډیر خوشخال یم چه پدی هکله مونږ د دولت د عصری کیدو په هڅو کی مرسته کوو."

په تیره اونی کی د افغانستان د ګمرکونو ریاســـت یو تړونه ځمکه د نوموړی پروژه لپاره وټاکله او UNOPS ابتدائی سروی او ډیزاین د دی پروژی لپاره پیل کړی دي. دودانولو او روزني چاري به په بشپړه توګه د پلان سره سم د 2011 کال د اګست په میاشت کی بشپړه شي او ګټه اخیستی ته به وړاندی شی.

د دی دفتر د عملیاتی چارو مرکز چی په کال 1995 رامنځ ته شوي دی په هغه برخو کی فعالیت کوی چی د ملګرو ملتونو د دندي سره تړاو لري. UNOPS خپل وړتیا په لویو بنسټیزو او کړکیچنو پروژو کی په ثوله نړي کی ثابته کړي ده ، لکــــه د پروژو دیزاین، د استخدام څخه څارنه، تدارکاتی او د قراردادونو چاري، بشری منابع او استخدام مالی او اداری مدیریت.

دا دفتر د افغانستان د حکومت او د مرستندویه هیوادونو په استازیتوب د افغانستان د بیارغونی په هکله بنسټیزه ونډه اخیستی ده دا فعا لیتونه په لاند توګه افاده کیدای شی : د عملیاتی مرکز چاري په لاندی توګه دي: ساختمانی انجنیری مهندسی خدمات، دظرفیتونو ارتقاء او پراختیا حکومت ته په اداری چارو کی لکه د ګمرکونو نوي کول او بیارغول ، انتخابات او دچاپیریال ساتنه.

د بشپړو معلوماتو لپاره لطفاً د **کت سوی** سره په لاندی ایمیل یا تلیفون اړیکه ټینګه کړي.
تیلیفون: +93 798900685
بریښنا لیک: Katsuik@unops.org